لیکوال: کلنل سرهنري میکماهن
ژباړه، څیړنه او مقدمه: دوکتورعبدالخالق رشید
۲۰۲۲/۱۲/۲۴

# ورځـلیـک

## (روزنامچه)

## (د ۱۹۰۶ کال د دسامبر له ۳۱ څخه د ۱۹۰۷ کال د مارچ تر ۷ پورې)

## شلمه برخه

(CONFIDENTIAL)

DIARY OF COLONEL SIR HENRY McMAHON, K.C.I.E , C.S.I , CHIEF OFFICER ON SPECIAL DUTY WITH THE AMIR OF AFGHANISTAN.FOR THE PERIOD FROM 31st DECEMBER 1906 TO 7TH MARCH 1907

**(محرم)**

**(د هند ملي آرشیف – بهرنی څانګه)**

د افغانستان د تولواکمن لپاره د ځانګړې دلي او ځانګړي پلاوي مشر

کلنل سرهنري میک ماهن

لیکوال: کلنل سرهنري میکماهن

ژباړه، څیړنه او مقدمه: دوکتورعبدالخالق رشید

۱۳۹۲


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپلې لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

## یکشنبه د ۱۹۰۷ کال دمارچ (۳)

امیرماته پرون وویل چې دده لپاره دامرتسردسفر تا بیا وکړم، ځکه چې ده غوښتل هلته دسکانو طلایی معبد وګوري.کله چې موږد امرتسرله ملکي چارواکو سره داخبره شریکه کړه،هغوی حاضرنه ووچې داکارترسره شي،ځکه ددوی لامل په دغه اړه داوچې سکان چاته اجازه نه ورکوي چې ددوی معبد ته له بوټونوسره ننوزي بلکه له هرسړي هیله کوي چې خپل بوټونه معبدته له ننوتو سره سم وباسي .کیدای شي چې داکاردامیردځوریدو سبب شي .مادهغوی ددغه ډارخبره وکړه، خو ویې ویل چې امیربه په دغه اړه له ډیربښه اووړچلند څخه کاراخلي .

زموږ یوي کوچنۍ ډلې نن سهاردغه سفردیوه ځانګړي اورګاډی په واسطه پیل کړ،ما دا امرونه هم وکړل چې زموږ ددغي کتنې په اړه باید هیڅ ډول رسمي یادښتونه چیرې ونه لیږل شي. خوله دي سره سره هم د امرتسرپرتم ځای باندې درنه ګڼه ګونه جوړه شوې وه،موږخپل ګاډی ته وختواوسفرمو پیل کړ،معبد ته زموږ لاره د ښارله منځه تیره شوې وه،هند ته زموږدسفرپه ټوله موده کې دومره ګڼه ګونه لکه چې نن په دغه ښارکې وه، کله هم موږ نه وه لیدلې،ګڼې ګونې ټولې لارې اوکوڅې پرسراخیستې وې .دلارې دسرهرکورله کښته ترپورته پورې په ننداره کوونکو باندې ډک ول، ټول سړکونه دیکورشوي وواواميرله خورا تاوده اوله شوره ډک هرکلي سره مخامخ شو.دهغې ګاډۍ آس چې زه اوامیرپه کې سپاره وو له ډیرو پاریدنو اوچغو لیونی شوی و.همداوه چې موږدي ته ناچارشوو چې له هغې ګاډۍ کښته شواوپه بله کې سپاره شوو .

له رسیدنګ سره سم موږ معبد ته نژدې دننوتوپه دروازه کې دامرتسردمشرانوله خوا هرکلي شوو،وروسته موږ دننوتو د دروازې پرلور چې باید بوټونه وایستل شي وروبلل شو،هلته یې زموږ لپاره ښکلي پایزارتیارکړی و.امیر وویل چې دی به هغه څه ترسره کړي چې دوی یې غواړي،دوی ویل چې لوڅې پښې باید لاړشي چوپړوالوزموږبوټونه وایستل،په یوه ښایسته بکس کې یې کیښودل اوپرځای یې طلایي چپلکې راته کیښودې .موږ نوي دمعبد دانګړپرلورحرکت وکړامیروپوښتیدل چې سیکان خوله تمبا کیو څخه بد نه مني،کله یې چې وا وریدل مني یې،نو بیا یې دخپلوسکرټواوسیګارو قطي له خپلو جیبونو څخه را وایستل اوهغه یې ددروازې ساتونکوته وسپارل، موږهم کټ مټ چاره ترسره کړه ، طلایی معبد ډیرښکلي ښکاریده،په یوه ښکلي انځوریزکانتینرکې ولاړدی او چاپیره یې دمرمردیوال را چاپیرشوی دی .موږخپله معبد ته ورننوتواوهلته مویوشمیرمذهبی سیکان ولیدل چې دخپل سیکهی مذهب دکتابونو ساتنه او څارنه یې کوله.روحاني سیکانودخدمت په لړکې امیرته ددعا هیله وکړه اوموږټول یې دګلانوپه غاړکیووپسوللو .

امیرلکه دتل په شان دهغه له دود سره تل ددې لپاره ډیرتړی ونویې دخپلو معلوماتوله امله دبې شمیره پوښتنو کولو لړی پیل کړه اوله دي امله له ټولو هغوسیکانوسره چې دلته راغونډ شوي وواړیکي ډیر زردوستانه شول.سازیان د مذهبي سندرو پرلامل راڅرګند شول اواميرورته کیناست،موږ تریوه ساعت زیاته موده په معبدکې تیره کړه اوهلته موخورا آرامه فضا مل شوې وه.امیروویل چې نوربه ځو،په دغه حال کې یې ښایسته ډیره اندازه طلایی سکې معبد اودوه دوه سوه روپۍ خادمانوته ورکړې، وروسته موږ پرمعبد ورپورته شواوهغه مو له تهکاوۍ ترلوړو پورې وکوت، ورپسې موږهغې ودانۍ ته بوتلل شووهلته چې دسیکانوبیلابیلې خزانې لکه پخوانۍ تورې اونورڅیزونه ساتل شوي وو،داټول څه په خورا دقت سره وکتل شول اوپه پای کې موږ بیرته دننوتو دروازې ته را وګرزیدو اوخپل بوټونه موله نژدې دووساعتو وروسته بیرته پښوکړل اوسیکان ډیرخوشاله ښکاریدل .

دهغوی لپاره چې دافغانانواوسیکانو پردودیزواومیراثي ستونزوباندی پوهیږي ، دافغانانو تعصب او ځان غوښتنه اودسیکانوسرټمبه ګي دواړه دا ګرانه ښيي چې افغان واکمن دی د سیکانو ترټولوسپیڅلیو سپیڅلي ځای کی کینول شی هلته چی سیکانواميردخپل مذهب ترټولو لوړستایوال ځای اوچاپیریال کي په پوره پراخ لمنی اوخوښیي سره دخپلو نویوملګروسیکانوسره درناوی کړ،هغه وویل »: زه ټولو مذهبونو ته درناوی کوم،خوهغوی ته نه چې له خپلي عقیدی سره لیواتیا نه لري «

یوداسي څوک چي دخپل لید له مخې په خپل مذهب باندی دزړه له کومي باورمن ، د نورود باورونو په وړاندې بشپړزغمناک وي، ډیرنادراوان چی نا پیدا دی، خو زه فکرنه کوم چی دده سردارانو ته به دغه ننداره دخوښیي وړشوې وي .

له معبدڅخه بیا موږ د ښاردیوی بلې برخي د امرتسردعمومی بڼ پرلورد ګڼي ګوني په منځ کي چی ترپخواهم ګڼه وه وخوځیدو،دایوپرخوښیوسمبال ځای دی ، لوړی ونی،شنلي اولوټس ګلونه له ورایه په کي خپل ځای لري،ځانګړي تیاري نیول شوي ول څود ټیل ماټیل مخه ونیسی اوبڼ یوازی زموږ په خپل واک کي وي .موږهلته ترخیمی لاندی ښه غرمني اوترونولاندي له ناستی څخه خوند واخیست، ترونولاندي ناستی د امیرلپاره په جنت کی د ناستي په معنا و،خو لکه چي ما ته یي وویل نن دیوڅه ، یوکمی دلته شته چي هغه دښځو نه ترسترګوکیدل دي .

دلته نن د امیرخبره دګلونوپه اړه وه چي په خورا خوشالي سره یی زموږ له اړوند پولیس چارواکی ښاغلي ) پالین (سره خبري پرې کولی څوک چي په دغه باره کي یي معلومات درلودل اوددغو ټولوپالوال اوڅارونکي هم دی و .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

موږ ببرته لاهورته د ) ۵ (بجوپه شاوخوا کي را ورسيدو،ځکه چي ده بايد يوه خورا مهمه او ژوره دنده چي هغه دلاهورداسلاميه کالج دبنسټ ډبره وه ايښودې واى،همداوه چي ما دوى په) ۴ (بجو په خپل اورګاډي کى کيناوه اوحرکت مورا وکړ،لاهور ته له رارسيدو سره سم ما اميرهغه ځاى ته هلته چي مراسم نيول شوي وولاربښونه کړ،ما هڅه وکړه چي ځان ترى پريوه خوا کړم،ځکه چي زما تل دى ته پام واوهيله مى نه درلوده چي ددى د مذهبى فعاليتونوپه اړه چى په څه شان فعاليت کوي ځانته دڅه ويلو حق ورکړم، زه هلته پردې پوه شوم چى ګڼه ګونه خورا زياته ده ځکه چي په دغو مراسمو کى په لاهورکى زموږ مهموچا رواکو هم ګډون کړى و،ځکه نومراسم په ښه توګه ترسره شول اميراغيزناکه وينا ، د شلو زرو روپيو ورکړي او په راتلونکى کى د ) ۱۲ (زرو روپيو ژمنه دلته ترسره شوه ، دامير وينا يوه ډيره ښه وينا وه(*) ،ځکه نوما دهغى ژباړه دلته را واخيسته .

**( *)د ۱۹۰۷کال د مارچ په) ۳ (په لاهور کي د لاهور د اسلاميه کالج کى د امير وينا :**

**»دلوى خداى له شکرانى او دهغه داستازي له ستاينې وروسته، زه تاسى د پنجاب اوهند مسلمانانو ته چى دلته راغلى ياست خپله وينا وړاندې کوم،ما ستاسي ويناوې ولوستي او واوريدې، زما وينا په دغه اړه هغه خواب دى چي له دغو ويناوومې واخستى اوپرې پوه شوم .**

**څه چي زه غواړم ووايم هغه دادى چي زه ترهرڅه دمخه دهند له حکومت څخه له دې امله چي زما مومنووروڼوته يې دا آزادي ورکړې چي دوى په خپلواکه توګه کولاى شي خپل مذهبى مراسم دخپلواکى په فضاکي ترسره کړي مننه کوم . زه دلته دخپلي وينا په ترڅ کي يوڅوټکي دمشورې په توګه تاسو ته وايم . اى زما مسلمانو وروڼو، که هڅه وکړئ، پوهه ترلاسه کړئ،تا سي به کله هم دبې پروايى جامې پرځان نه کړئ، داستاسي دنده ده چي پوهه ترلاسه کړئ، زه دا نه وايم چي تاسي دلويديز فلسفه اوپوهه مه وايئ اويايي مه غواړئ،که چيرې ستا سي ماشومان په رښتياهم له محمدي ايمان اودهغه له اصولو اوقوانينوسره سمه آشنايى ولري او هغه زده کړي،اوبيا دنويوعلومو د زده کړې پرلورهڅه ونه کړي دا باورشته چي تا سي به د ډوډى خاوندان نه شئ، دا کيداى شي چي پرنويوعلوموباندې سترګي پټي کړې شي ؟ که يي پټي کړئ، داکار به ددې لامل شي چي تا سي به د ژوند کولو پرچل باندى بريالي شئ . داهم ستاسي دنده ده چي خپل ماشومان له محمدى اصولوسره آشنا او وروزئ، دوى بايد له محمدي دين سره مينه په داسي توګه خپلو زړونو ته ولېږدوي چي دنورومذهبونو مينه يي کله هم زړو ته لاره ونه مومي . يوځل چي دوى د زړه له کومي پرمحمدي قانون باندې باورومند له هغه وروسته بيا اړينه نه ده چي دوى دڅه پرلور پاملرنه کوي.موږ لکه د پرکارپه شان يو،چي په يوه پښه لکه پرخپل ايمان کلک پرخپل ځاى باندې ولاړيو اوپه بله پښه باندې بيا پردوه اويا مذهبو باندې دايره را چورلوو. کله چي د رښتينى مذهب وړانګه يوځل د دوى زړونو ته ور ننوته بيا به ترابده پورې هلته پاتې وي اوهغه به يي ځاى وي. هڅه وکړئ چي يوځل مودخپلوماشومانو پښې دايمان پردايره باندې کيږدئ، له هغه وروسته يي پرېږدئ چي د نړى په دوه اوياوومذهبو باندې ځان را وچورلوي،ځکه نو زه بيا دا وايم لکه څنګه چي زه غواړم په ټول افغانستان کي ډيرښوونځي پرانيزم په ډيرافسوس سره با يد ووايم چي زه نه شم کولاى له تاسي سره دومره مرسته چي وړده وکړم، خوزه دا نه وايم چي ټول بايدله مرستي کولو ځانونه پريوه خوا کړو،زه يوازې دومره وايم چي زه دومره مرسته لکه چي زه يي غواړم نه شم کولاى،وخت نا وخته زه په ورځپاڼوکي ستاسي د کالج اړوند خبرې او را پوروونه لولم، زه له هغو ټولوحالاتو چي پرتاسو اړوند دي خبرېږم . زه د زړه له کومي خوښ اومننډوى يم چي دمسلمانانوپه هڅو سره مسلمان ماشومان خوندي دي . زه نورې خپلى خبرې بس کوم او اصلي ټکي ته راځم،زه غواړم چي دغه کالج ته په کال کي (۶۰۰۰ ) زره روپۍ ورکړم، برسيره پردې (۶۰۰۰) روپۍ نورې هم هرکال پرې ورزياتوم،خو زما د زياتيدو شرط ديوه ځانګړي لامل پربنسټ دياوهغه داچي دغه اندازه به يوازې او يوازې د يتيمو مسلمانو نجونواوهلکانو لپاره وي. زه دپنجاب له لفټنټ ګورنرڅخه د زړه له کومي مننه کوم چي تا سي ته يي اجازه درکړې چي دپنجاب له هرې خوا دغه يتيمان سره راټول کړئ، که دهغه ښاغلي لورينه نه وي تاسي به کله هم ددغه کارپرسرته رسيدو باندې بريالي نه شئ . زه يوځل بيا وايم چي دغه اضافي (۶۰۰۰) روپۍ به يوازې د يتيمو مسلمانو نجونواوهلکانودڅ وند دښه والي په موخه وي نه په بله موخه، زه همداسي دم درحال (۲۰۰۰۰) روپۍ نورې د کالج د جوړولو اونورو پلانو لپاره چي هغه به هم ستاسي ټولو له خوا جوړيږي ورکوم .زه دغه روپۍ يوازې دخداى دنامه په خاطر، دخپل نامه په خاطر کالج ته ورکوم، زه به دغه شل زره هندى روپۍ دکالج د جوړولو په موخه نن ما ښام اوياهم سبا سهار دوى ته وسپارم .**

**په پاى کى زه داد دعا کوم چي خداى اسلام وساتي،هغه اسلام چي زه يي هم غړى يم او تل به يي په هرډول چي وي ساتنه کوم، دريغه چي زه نه شم کولاى زياتي اقتصادي مرستي له تاسو سره وکړم،هغه چي زه يي پرځان لازمي بولم ځکه چي ما هم په افغانستان کي په دغه لاره کي زياتي پيسي لګولي دي «.**

زموږ نني مابنامني د( ګلوسس تيشر) غونډ له منصبدارانوسره وه .

امير ان لا د ورځي په اوردو کي ددى لپاره ليوال اوتلولى و.خوداژمنه يى کړى وه چي که زه هلته هغو ميرمنو ته چي بلل شوى وى اجازه ورنه کړم دى به هم ولاړنه شى، ما داخبره وکړه چي دا کاردټولو ميديانواو فارسيانود قوانينو خلاف عمل دى .چي ترسره به نه شي .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

موږ په سم وخت ورسيد و،هلته مو په زړه پورى ما ښامنۍ درلوده چى وروسته  په برج يابيسکوټ لوبه باندى پاى ته ورسيده،له هغه وروسته اميردخپل دود خلاف  په )  ۳۰:۱۲ (بجوله هغه ځايه پرحرکت پيل وکړ. ده وويل چى دى به  ميزته خپل يادګارى کپ د دوى دميلمه پالني له امله را وليږي  .
په کابل کى د انګريزاستازي  ملک خدابخش پرځاى دبل کس خبره هم نن ياده شوه، دا ايده وه چې دځايى پوه او وړښاغلي استول اوټاکل سم کاردى ځکه چي له پخوا د انګريزي استازي په اړه څه پوښتني او ګرويږني وې، ما دا وړانديزاو يادونه ورته وکړه چي که اميرزموږاستازي ته په خپل درباركي لوړحيثيت او لوړه وړتيا ورکړي ښه به وي، خوامير راته وويل چې دى دم ګړئ دغه کار نه شي کولاى،ځکه چى اوس دى په داسى يوه حالت کې دى چې له هنده له بيرته تګ سره سم به دده  ټولو کړو وړوته  دده خلک په شکمن ليد سره ګوري،ده وويل چې ده له ملک خدا بخش سره سمه رويه کوله،کټ مټ تګلاره به له نوي کس سره هم که چيرې يى دهغه په شان سم چلند اوخپل کاروبار کاوه په عملي توګه ترلاس لاندې ونيسى .دهغه په فکر،دانګريزي استازي هغه ورځي اودنده چي يوازي به يى ځا ن پرجاسوسيو باندې بوختاوه نورې پاى ته رسيدلې دي  .
وروسته ما ته دحکومت له خوا داخبره امرشوه چى ددغې ځوکې لپاره د منل شويويکانديدان ليست هغه عاليجناب ته وړاندې کړم،ما داکاروکړاوپايله يى هم د اشوه لکه چې اميرراته وويل چى له يوځه غور وروسته به دى يوکس له دغو غوره کړي اوپه پاى کې افتخارالدين چى زما له آتشوځخه ووټاکل شو  .
نن ما دحکومت له خوا دا ځواب ترلاسه کړچى دافتخارالدين ټاکنه ومنل شوه ، دا به شونې وي چې زه هغه له اميرسره يوځاى افغانستان ته واستوم؟ ما دغه خبره نن له افتخارالدين سره پرهغه مهال چى له امرتسره بيرته را وګرزيدو شريکه کړه،داټاکنه د دواړولوريو لپاره يوښه ټاکنه وه، خو زه لاهم د افتخارالدين د استولو په کارکى له ستونزې سره مخامخ وم .

**دوشنبه د ۱۹۰۷ کال دمارچ  (۴)**

داميرپه غوښتنه دهغه خپلواودده دانګريزي چا رواکو ډلې نن سهارله ده سره عکس واخيست، په دغه ډله کې دده مشرسرداران هم شامل ول ،خو دوى په خپل وخت سره تيارنه شول اوده هم اجازه ورنه کړه چې له موږ سره ديوځاى شي .اميرپه دغه برخه کې ګرد سره ځانګړى نظردرلود معنا داچې موږ بايد ځانونه څنګه تيارکړو،دى ددې لپاره ډيرليوال و چى عکس بايد په برياليي ډول سره واخيستل شي  .
 ترديې لږدمخه،له اتوبجو وروسته،جګړن) مينارد (دهغه د سترګو وروستۍ ازموينه اوکتنه بشپړه کړه او راته ويى ويل چې دى په رښتينې توګه د سترګو په روغتيا باورمن دى،يوازې يوځه چې بايد په پام کې وي هغه دعينکود غوره کولو موضوع ده،سترګې په بشپړه توګه ښې او روغې دي ،خو ليد يې يو څه سيګماتيکه بڼه لري  .
همدغه دوې مهمي ستونزې په احتمالى توګه وې، اميرپه خپله په موټرکى له ميجر )بروک ( سره کيناست چې له لاهوره د باندې د شاليمارباغ ننداره وکړي  .
هغه مهال چى دى په لاره کې ودلاهورپوليسوما ته دا خبرراووړ چې دوى له موثقو مقامات څخه اوريدلى چې د ټوپکوځلوراوپنځه بکسه زموږ په کمپ کې داميرداستازي خيمې ته راوړل شوي اوهلته ځاى پرځاى شوي وو ،دوى ته معلومه شوې وه چې دشملي يوه تايلراو داميراستازي دا راوړي اوويل يې چي دوى دا د اميرپه امراخيستي دي .
رښتيا خبره همداوه، ما ته ويل شوي وو چى دا زموږ د سرحد پرځلکود نورمحمد کوچى په استازيتوب پلورل شوي، کوچى هغه ځوک چې دټوپکو پيژندل شوى قاچاق کونکي دى،افغان استازي دټوپکو د پلورنې اوپيرودنې له امله ډيربد نوم دځان کړى و  .
استوګنځي ته د اميرله راستنيدو سره سم ، زه ورغلم او پردغه راپوربانديې مې چې ما ته را رسيدلى وخبرکړ،ما ورته وويل چې زه په دغه اړه کوم لامل اوسند نه لرم،ما يوازې دغه ټکى په ګوته کاوه چي دهغوشيانومخنيوى بايد وشي چې دده باورته زيان رسوي اودده په نامه ترسره کيږي، ما داهم ورته وويل چې زما موخه دانه ده چې زه ددغه راپوررښتيا او دروغ ثابت کړم .خو آيا ده رښتيا هم دا امرکړى و چې دغه ټوپک بايد کمپ ته را وړل شي ؟
هغه وويل، نه ،هرډول ټو پک چې دننه راوړل کيږي هغه دده نه دى .ده له ما مننه وکړه او دا يې په ګوته کړه چې دى به په آرامۍ سره په دغه اړه ګرويږنه وکړي اودا به معلومه کړي چې دغه راپوررښتيا دى که نه؟
د ورځې په وروستيوکي يې ما ته وويل چې ده دخپل باوري کس په واسطه د استازي خيمه ټوله لټولې خوهلته يى دټوپکو صندوقونه نه دي ليدلي.ما وويل چې زه خوشاله يم چې داخبره مې واوريده او داخبره حل شوه  .
هغه ما ته وويل چې ده خپل کسان په ممبي او کلکته کې د وسلوپلورلو ته وګمارل ، دوى ته  دا جدى امرشوى وچې د سرحد له خلکو يى بايد ونه پلوري،هغه وويل چې نن ده جدي فرمان صادرکړى چې نور بايد دده کسان وسلې پيرودل بند کړي  .
نن د (دابز) Dobbs  دواده ورځ ده اوموږ ټول له واده وروسته په ګورمنت هاوس کې ميلمستيا ته وربلل شوي يو،موږ دغې بلنې ته په ښه وخت سره ورسيدو، اميرډيرښکلى چلند هلته ترسره کړ،ناوې ته يې د واده ډيره ښکلې ډالۍ ورکړه او ددغې خوشاله جوړې دلاخوشالۍ په خاطريې ښکلې څرګندونې هم وکړې.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ددي لپاره چي دده په ذهن کي موداسي ذهنيت نه وي را ايجاد کړی چي ګواکي موږ په خپل عبادتي ځای کي دده د ليدو ليوال نه يو،ما خپل بيشپ وهڅاوه چي ده ته بلنه ورکړي څو زموږعبادتځای وګوري اواميرداکارپه خوښی سره ومانه ، موږ بايدهلته يوځل تللي وای،يوڅه اوبل څه زموږ په مخ کي خنډ شول او زموږ کتنه هم پای ته ونه رسيده .

**له ميلمستيا موږ بيا د موټرپه سپرلی شو،دامير د خبرومحور نن بيا دده دهيواد اوزموږ دسرحد د ملايانوپه ناخبری اوبې پروايی باندې راڅرخيده. دريښتيني دين اودمسلمانانو دمقدساتواوسپيڅلوکتابواوددوی دپوهي په اړه ده وويل چي دوی صفردي،د دوی مذهب يوازې دادی چي د هرنوي څه پرضد و اوسي ، او دهرپرمختګ او سمون مخنيوی وکړي .**

نن ما سپينين ميرمن (بوشبی ) (Miss Bushby) له مدراس ښځه را ورسيده ، داهغه ميرمن وه چي څه موده پخوا يې اميرته ليکلي وو چي دی دخپلي ميرمني اولورانو لپاره يوې لاربسودي اوښونکي ته اړتيا نه لري ؟ ، داخبره وشوه،دی دغه کارته په رښتياهم ليوال و. خو ماته يې وويل چي د ميرمن (بوشبي ) په اړه پوښتني ګرويږني وکړم،هغه د جنرال (بوشبي ) لوراودحيدرآباد ديوه اوسيدونکي لمسی وه. زما معلومات د هغي په باره کي سم اودقناعت وړوو ځکه نواميرهغه د انترپو لپاره راوغوښته،هغه يوه مناسبه ښوځک وه اواميرهم دهغي لپاره په هر مياشت کی د زرو (۱۰۰۰) روپيو تنخوا ژمنه وکړه، ومنل شوه چي هغه بايد د اپريل په لومړی نيټه له پيښوره د جلال آباد پرلورحرکت وکړي.

نن شپه په لسوبجوله لاهورسره دپيښورپه موخه دخدای پامانی تکل و،ځکه نو موږ يوازې يوه بلنه ماښامنی په لاهورکی درلوده، دا له (ميکلز Michaels ) سره يوه ساده اوخاموشه بلنه وه، ځوک چي اميرخپله ورسره ايل غيل و.

موږ خورا ښکلی اوخوشاله ما ښام له موزيک او د **برج** يابيسکوټ له لوبي سره يوځای درلود.زما لپاره دايولوی سرخوږ ی شوځکه چي ما په خورا سختی سره وکولای شول چي اميرد ي په (۱۲ ) بجو د اورګاډي تم ځای ته ورسوم .

نه يوازې زه بلکی ټول دغه ټکي ته انديښمن ول چي ګواکي موږ ناوخته يو او ټولو دده حرکت ته انتظار يوست .

## سه شنبه د ۱۹۰۷ کال دمارچ (۵)

موږ را ولپنډۍ ته د سهارپه (۸) بجو ورسيدو،هلته زموږهرکلی د جنرال (Creagh General Sir Moore ) اونورو ملکی اوعسکري مامورينو له خوا په تم ځای کي وشو .

کله چي موږ په راولپنډۍ دتراګره لاندي را تيرېدو،اميرهيله وکړه چي بايد له دغو کلاووچي په جوړښت کي يې تيرکښونه او برجونه له ورايه ښکاريدل کتنه وکړي، ده ماته هغه بله ورځ را ياده کړه،ځکه نونن موږ نا چاروو چي کوم څه دی وايي بايد ترسره شي .

پنځه شپږ موټرونه زموږ د سپرلی په موخه هلته ولاړوو، ترټومال کلا پورې د پنځه مايلو په واټن لاره وه،هغه چي په تيپکه توګه پرټوله راولپينډۍ باندې را چورليده،هلته ټوپونه نه وو،امير هم نه غوښتل چي نن توپونه وګوري،ځکه ده يوازي غوښتل نن دغه کلاوې ،دهغو برجونه او تيرکښونه په دی خاطروګوري چي دی هم له کابل ښځه د) ۴۰ ( مايلوپه واټن په جبل السراج کي کټ مټ کلا جوړوي .

جنرال موری ګريک دی قصرته بوت او له هغه ځايه يې هرڅه ده ته وروښودل او اميرهم هغه په خورا ځيرکی سره ترنظر تيرول .

ده له جنرال موری څخه ددغښودنواومعلوماتوله امله مننه وکړه او خوشالي يې څرګنده کړه چي له ده سره يو ځل بيا ګوري .نن ان له سهاره دايوه خبره دده په خوله کي لويدلي وه چي روسيې ته قهريدلی اوهغی ته يې پيشروونه وهل،د ادعا او ګواښ پرژبې يې وويل » :زه هيله من يم،هغه څه مي چي په زړه کي دي، هغه ترسره کړم، روسيه به کله هم پردي ونه توانيږي چي افغانستان دي ترخپله اولکه او پونده لاندی لکه چي اوس يې نيت دي راولي .«

له کلا څخه موږ بيرته راولپنډۍ ته را ستانه شوو، د وسلو له زيرمتون څخه مو ليدنه وکړه،هغه چي په ټول هندوستان کي ترټولولوی زيرمتون و .

موږ زيرمتون ته بوتلل شوواوهلته مو يوه لويه کوټه وليده چي ټوپک په کي دلی دلی په کي تر) ۷۰ (زرو زيات ځای پرځای شوي وو،دهرافغان خوله ددغي ښکلي منظرې په ليدو سره اوبه اوبه کيده، اميرپه مينه د ټوپکو له دغي ډيرۍ سره ليوالتياوښوده،هغه وويل » :دريغه ،چي زما زيرمتون اوس خالي دی، ځکه چي ما خپل ټول ټوپک خپلي شمالي پولي ته استولي دي .بناءعليه دغه خبره يادښت کړه چي،شمال ته، نه جنوب ته اودا زما پرملګرو باندې زما د نه باورۍ څرګندونه نه کوي ؟ «

د مارتينزيوي کوټی ته د کتو په ترڅ کي هغه وويل » :تا سي خو دا نه کاروی ، ولي دا ماته نه راکوئ ؟ زه دغه ته سخته اړتيا لرم «



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ

د زیرمتون دنورو برخو له لیدو وروسته،موږ له بیلګه یزې کوټې څخه کتنه وکړه ، دلته د نندارچیانولپاره کتا ب ایښی و،په هغه کې چې پخواني اروابناد امیرهم) ۲۱ (کاله پخوا لاسلیک کړی و،امیرهم په هغه کې لیکنه وکړه، وخت په تیریدو و اوموږهم تم ځای ته د ورګرزیدو په درشل کې وو،له زیرمتون څخه د وتلو په حال کی امیردبریتانوي پلیوسرتیرودګارد پرلوري چې په دروازه کې ولاړو، ور وګرزید اوجنرال ته یې وویل » :زه چې څومره ستاسې پوځونو ته درناوی کوم ، دوی یې وړدي، دوی دوه شیان لري هغه چې یوربښتیانی سرتیری یې غواړي ، ویاړ پرخپل ځان اود قوماندي کلک منل «
په تم ځای کې ده جنرال اودهغه مهم چا رواکي خپلې بګۍ ته وروبلل، له یوڅو دوستانه خبرو وروسته یې ) سرموري ګریک ( ته خپل عکس ور ډالۍ کړاوبیایې له دوی خدای پاڼی وغوښت، او موږ دپیښورپرلورخپل سفررا پیل کړ .
ما دنن ورځې زیاته برخه له امیرسره دده په بګۍ یاډبه کې لکه څنګه چې په دغو ورځو کې یې له ځانه نه لرې کولم تیره کړه .
موږ پیښورته دسهارپه څه باندې ) ۵ (بجو ورسیدواوهلته مو)سرهرالډ دینې ( جنرال ) سرایدموند بارو(،ملکی او پوځې چارواکي پرپلیت فارم ،په هغه ځای کی چې له دي امله تیارشوی و ولیدل .دملګرتیا ډک روغبراوهرکلی سره وویل شول،له هغه وروسته موږ ټول خپلو بګیو ته وختو اودهغه میلمستون پرلورمو ورمخه کړه هغه چی د امیرلپاره دده د استوګنځي په توګه ټاکل شوی و .
له رسیدو سره سم امیرزر ترزره بیا ځان حرکت ته جوړکړ،له ما یې هیله وکړه چې موټرونه ده ته ورواستوم چی را وایی خلې، موږیوځل پیا پرته له دي چې زه خپل سامان را واخلم اوخپل یونیفورم بدل کړم په سفرپیل وکړ، پرکوم سړک باندې چې امیردحرکت امروکړ،هغه پر )بلک واچ ( بارکونو باندې ورغلی و، کله چې موږله هغه ځایه تیریدوامیرد) پرووست سرجن ( بلاکوته ګوته ونیوه او ویې ویل »:دا د واده شوي سرجن کوردی،هغه چی ما او تا دلته زموږ داستوګنې په وروستیوکې ولید،لطفآ ورشه او دسرجن میرمنې ته دغه کوچنې ډالۍ چی ما ورته اخیستی ورکړه «. هغه له خپل جیب څخه یوکوچنې بکس را ویوست، په هغه کې چې ښکلې غوږ والۍ وې، ما هغه له ځان سره واخیستې، دسرجن کورته مې ورووړې خوهغه دواړه له کوره دباندې وو .
پرهغه مهال چی په پیښورکې زموږ وروستي ورځ وه ، امیروغوښتل چی د واده شویو سرتیرو ژوند هم وګوري،ځکه نوما دی دیادشوي سرجن بارکونو ته بوت ، ده او میرمنې یې په خورا لیوالتیا سره امیرته دخپلو کوټواو دژوند کولو ډول په خورا درناوي اوښه توګه وروښودل .
د امیر ددې لورینې اویادونې سوچ چې د سرجن دمیرمنې لپاره دغه وړه ډالۍ یې په یاد وه،دا خبره دده لپاره یوه ټیپیکه پیښه وه،ما زیاتره وختونه دا خبره په پام کې نیولې وه چې دده له حافظې څخه نه ددغه سفر ډیره وړه پیښه له یاده وتله ، نه هغه ځایونه او خلک چې ده لیدلي ول،نه هغه څه چې ده ترسره کړي ول ، هغه چي کیدای شي یو څوک یې کله کله د زیاتې بوختیا له امله له یاده وباسي ، خو دی داسی نه و، دده له حیرانتیا ډکه حافظه دا سی فعاله وه چي یوڅه هم پربله نه ترې تلل .
موږ نن شپه خپله ما ښامنۍ له سر( ادموند ( اومیرمن ) بارو (سره درلوده، د یوې لنډې یادونې له مخې ما باید دوی ته خپل وخت او وعده هم ورکړې وای .میلمستیا یوه وړه میلمستاوه،هغه چی د امیر لپاره په زړه پورې وه .
کله چې میرمنې له غونډې څخه ووتې،**جنرال له امیرڅخه دهغو کلاوو په اړه پوښتنه وکړه،هغه چی ده نن سهار په راولپنډۍ لیدلې وې. ده په دغه اړه وویل چی دده لپاره په ځانګړې توګه دغه پوځي کلاوې ډیرې جالبې اوپه زړه پورې نه وې .امیر په دغه اړه څرګنده کړه چې که یوځل دښمن پرافغانستان باندې یرغل راوکړ،بیا به نه دی اټک اونه هم د راولپنډۍ کلاوې په کارشي .**
جنرال وویل،هو، کیدای شي،خو دا چی دا به په کارنه شي، په دغه اړه ده غوښتل چی وپوښتي څنګه،په دغه وخت ما ځان ورواچاوه او ومی ویل چې دایونظرو چی موږ یی انتظار نه لرو،خو په دغه اړه د امیرموخه یوه لویه همکاري اوملتیا وه .
جنرال وروسته بیا وویل چې افغانستان زموږ لپاره داسی دی لکه دسړي په لاس کی دفاعي وسیله .
امیر وویل : هو، خو دغه دفاعی وسیله باید د اوسپنې وي، نه دکاغذ .تاسی خلک ښکاری اوفکرکوئ ،چی دفاعی وسیله له اوسپنې جوړه ده اوهغه د اوسپنې کارکوي،خو دا په خپله یوکاغذ دی . تاسې باید له ما سره مرسته وکړئ څو دا له اوسپنې څخه جوړه کړو.ستا سې یوشمیر لاپه دغه برخه کې پرګام اوچتولو اوڅه کولو باندې ډاریږئ،ځکه تراوسه همداسې فکرکوئ چی که تاسې ما ته وسله راکړئ هغه به بیرته ستاسې پرضد وکارول شي،خو تاسې با ید پردې باور ولرئ چی دا کاربه کله هم ستا سې پرضد ترسره نه شي بلکې دا به زموږ د ګډ دښمن پرضد وي .موږ به کله هم له روسیې سره دوستان نه شو .څه چې زه وایم ، هغه ربښتیا دي، سر)هنري میک ماهن ( چی دلته حاضردی .پوهیږي چی دا خبره ربښتیاده،خو ستاسې زیات شمیرتراوسه پورې پرما شیطانی شکمن دي ، دبیلګې په توګه یوشمیرفکرکوي چې زه دا وسلې ستاسې سرحدي خلکو ته ورکوم ، زه دخپل مذهب په درنښت باندې لوړه کوم ،دخپل هیواد په درنښت اوپه خپل ځاني درنښت باندې لوړه کوم چې زه کله هم او یا به کله هم ستاسو سرحدی خلکو ته وسلې ورنه کړم،زما وسلتون تش دی،ولې ؟ ځکه چې ما خپله ټوله وسله شمال ته استولې ده نه ستا سې نا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لیدلواونا پیدا شکمنوته .زه به سترګي پټې ونیسم شیبې ته به ګورم چې کله به تاسې زما په اړه خپل شک یوې خواته کړئ ، زه نور نه څه کوم او نه څه وایم »
ددغو څرګندونواهمیت زه فکرکوم په دې کې وچې اوریدونکی یې له لاسه ورکول، ځکه نوما هڅه وکړه چې په دغه اړه هغه درزلرې کړم چې ددغو ستړی کیدونکو څرګندونوپه ترڅ کې د دواړو خواووپه مخ کی پروت و. د ډوډوی خوړلوپه خونه کې موږ یوڅه موسیقي هم درلوده او ما ښامنۍ موپه خوښۍ سره تیره شوه .امیرپردی راضي شوچې له هغه ځایه باید په)  ۱۲:۳۰ ( بجوحرکت وکړو،په داسې وخت چې هغه دپیښورډارونکې ناوخته شیبه وه  .

پاتې لري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ